د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسه

مالي او اداري چارو معاونیت

# د امنیتي کیمرو د استعمال او بیاکتني طرزالعمل

۱۴۰۲ هـ ل

ترتیب کوونکی: معلوماتي ټکنالوژي آمریت

# د امنيتي کېمرو د استعمال او بياکتني طرزالعمل

## سريزه:

ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلينو د خونديتوب او نظارت او همداراز د تضمين کيفيت او لوړاوي معيارونو د ښه پلي کيدو په موخه د مؤسسې په انګړ کښی امنيتي کېمرې ځآی پر ځآی کړي دي ترڅو له دې لاري وکولای سی د استادانو، اداري کارمندانو او محصلينو د خونديتوب او نظارت له پاره کار وکړي او په عين حال کښی د کيفيت لوړاوي معيارونه په ښه ډول تطبيق کړي. دا طرزالعمل د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د امنيتي کېمرو د ښه استعمال او بياکتني په موخه ترتيب سوی چی ۷ مادې او ۲ فصلونه لري.

## لومړی فصل

### اوله ماده

### موخه :

د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د امنيتي کېمرو موخه يواځې او يواځې د استادانو، اداري کارمندانو او محصلينو خونديتوب او نظارت دی. په دې برخه کښې هيڅ کومه شخصي موخه وجود نه لري.

### دوهمه ماده

### د امنيتي کېمرو د بياکتني صلاحيت:

د ميرويس خان نيکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د امنيتي کېمرو بياکتنه يواځې او يواځې د مؤسسې د عمومي رئيس، علمي مرستيال، مالي او اداري مرستيال، او د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمر له لوري ترسره کيدلی سی. بل هيڅوک د امنيتي کېمرو د بياکتني حق نه لري.

### دريمه ماده

### د امنيتي کېمرو فعاليت:

امنيتي کېمرې د خونديتوب او نظارت په موخه په رسمي وختونو کښی بايد فعاليت ولري. په غير رسمي وختونو کښی د خونديتوب دنده د امنيتي ساتونکو په غاړه ده.

## دوهم فصل

### څلورمه ماده

### د امنيتي کېمرو د بياکتني وخت او د ډاټا ساتنه :

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د امنيتي کېمرو بیاکتنه د بېړني حالت څخه بغير باید په میاشت کښی یوځل ترسره سي او د امنيتي کېمرو ډاټا د درې میاشتي ساتلو څخه وروسته له منځه وړل کیدلی سي.

### پنځمه ماده

### د شخصي موخو له پاره استعمال او بياکتنه نه سی ترسره کيدلی:

هیڅوک نه سی کولی د شخصي موخو له پاره د امنيتي کېمرو استعمال او بیاکتنه ترسره کړي. همداراز هیڅوک حق نه لري چي د امنيتي کېمرو عکاسي د شخصي موخو له پاره وکاروي او یاهم د یو شخص د ازار او ځوروني سبب سی. د سرغړوني په صورت کښی د مؤسسې رهبري او امنيتي ساتونکي باید اقدام وکړي.

### شپږمه ماده

### په عاجل وخت کښی بياکتنه:

د میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې د امنيتي کېمرو عاجل چیک او یا بیاکتنه د متضرر اشخاصو د غوښتني او یا هم د کومي ستونزي په رامنځته کیدو سره ترسره کیږي. په عادي حالاتو کښی د کېمرو بیاکتنه په څلورمه ماده کښی د ذکر سوي مهالویش مطابق ترسره کیږي.

### اوومه ماده

### د امنيتي کېمرو نظارت او ترميم:

د امنيتي کېمرو د خرابیدو په صورت کښی مالي او اداري معاونیت دنده لري ترڅو ژر تر ژره اقدام وکړي. که چیري د امنيتي کېمرو د بیاجوړوني په اړه تر درې ورځي پوري کوم اقدام ونه سی، مالي او اداري معاونیت یې په اړه ځواب ویونکی دی.

**پورته د امنيتي کېمرو د استعمال او بياکتني طرزالعمل د علمی شورا په (۱) گنه پروتوکول او ۲/۱/۱۴۰۵ نیټه کي تائيد او صحت لري.**

**په درنښت**

**روح الله (مشـــــــــال)**

**میرویس خان نیکه زابل د لوړو زده کړو مؤسسې رئیس**